




# د مولانا داکتر محمد سعيد « سعيد افغاني » ليکنه

د نشر نېټه : اول اپريل 2019 م

# قناعت څه معنی لری؟

ټول عقلآ متفق دي چې د انسان د پاره يو د لوړو اوصافو څنې قناعت هم دی. د دې صفت د استحکام له امله له يوې خوا د قرآن پاک ارشادات او د احاديثو هدايت او د سالکينو او پوهانو کوشش او له بلې خوا د قناعت غلطه تعبيرونه او د خلکو بيا د قناعت په پرده کښې ناوړه استفادې سړی ديته مجبوروی چه څه ناڅه د علمي قوت په رڼا محترمو لوستونکو ته د حقيقي قناعت معنی واضح کړي .

زما په عقيده چه په بعضې مسلمانانو کښې همدا د قناعت معنی نه پيژندل او له بلې خوا په قناعت سره خلک غولول يو د هغه اسبابو څنې دی چې د مسلمانانو د بير ته پاتې کيدو غټ علت شوی دی.

قناعت ديته نه وائي چه سړی به کار ونه کړی، زحمت به نه باسی، لاس په زنې به په کونج او صومعه کښې ناست وي او د خلکو په شا به پيتی وي؛ نور به ئی ګټي او دی به ئې په خيانت سره خوري.

هو: ديته قناعت نه وائي ؛ ديته لټی او بيکاری وائی ! ځکه چه قناعت د خيانت رنګ نلری. نو که سړی په خيانت باندې د قناعت پرده واچوی او خلکو ته په مکر او حيلې دا وښه ئی چه فلانی خو قانع سړی دی، بايد چه د ده سره معاونت وشي او په دا وسيله ځان مستريح کوي دا قناعت نه دی ، بلکه غټ خيانت دی.

حضرت رسول اکرم ﷺ فرمائی چه : د زحمت او تکليف د ځان او لاس څنې دې خوره.

قناعت دا هم نه دی چه ته به زحمت باسې ، تکليف به ګالې ، ښه کار به کوې او د هر چانه به دې د عقل قوت او فعاليت ډير وي لکن د دې کبله چه ته بوټ پاکی نه خوښوې او مداحی در ته ښه نه ښکاری نو څومره چه ته د غټ اجر لايق ئې بل به په تا باندې هيڅ پروا نه کوي او دا د هغه پروا نکول به د ستا د پاره څه چه د جامعې د پاره هم مضر وی.

نو په دا وخت کښې چه د خپل حق اظهار نشي کولی ، دا قناعت نه دی دا جبن او لټی ده !!

دا قناعت نه دی چه هرڅه به لرې ؛ لکن د بخل او حرص له امله به ئې نه په خپله خورې او نه ئې بل ته ورکوې او په دې خوند اخلې او فخر به کوی چه دا زما ده او دومره څه لرم.

ما ډیر خلک لیدلی چه سره د غټې هستی د یو عاجز فقیر همت څنې دی زار او قربان شی.
قناعت دیته وائې چه کار به کړې، زحمت به ګالې ، په خپل لاس او د مټ په قوت به په حلالې او د جائزې لیارې څه د ژوندانه او حیات د پاره توښه پیدا کوې.
نو که سره د زحمت څنې پوره د حیات کفاف دې نه شو موندلی او یا د بل بډا په شائې مستریح نه وې نو به په خپل سوکړک او جواری قناعت کوې او د بل مال ته به سترګې نه پټوې.

رحمن بابا وائې :

قناعت مې هسې خوند په خولې کښې کیښود
چې وچ توک مې په دهن کښې انګبین شو

هو : که سړی په روا او جائزو لیاری زحمت باسی ، لکن سره د زحمت نه څه په لاس ورنشي دلته نو د قناعت معنی هم داده چه په غلا ، قمار، رشوت، احتکار او په نورو نا جائزو لیارو به تشبث او لاس نه پوری کوې .
قناعت هم دا دی چه همیش به د ځان او د خلکو د آرامی د پاره ګټه او کار کوې او په خپل مال او پیسو کښې به د عاجزانو او غریبانو د حقوق لحاظ هم ساتې.
هو : هغه یوه او پوره قانع سړی دی چه سره د مال او پیسو څنې د جامعې د خیر او فلاح لپاره کار کوې او په خپل مالې قوت سره اصلاحې مفاخر پیدا کړې.
یعنی د مال لرونکی انسان د پاره د قناعت همدا مخکی نښه او علامه ده چه څه مال به په اصلاحی لیارو کښې صرفوی نه دا چه نور به هم پسې حرص او بې فائدې جمع کول کوی.

موږ به نشی هیڅ سړی بې قناعته
که ئې خونه وی په زرو په سیم ډکه

په زدکړې او تعلیم تر قناعت څنې معقول حرص ښه دی دا د قناعت حقیقی معنی چه د ښه کار او زحمت په اخر کښې به سړی ترې فائده اخلی او دبل دغولو لو د پاره به ئې نه استعمالوې او خپل اصلاحې حقوق به د قناعت په غلطې معنی بل ته نه پرېږدی او په علم کښې به چه څومره ئې دلاسه کیږی د خلکو د مفاد د پاره به نور هم زیات والی کوی .

***

سعیدافغاني

کابل ـ خیرخانه مینه
د ۱۳۵۴ هجري شمسي کال

ترتیب کوونکی : برهان الدین « سعیدی »

www.said-afghani.org ـ بازګشت به صفحه اصلی